**مطبوعاتي اعلامیه**

## مستعمره کشمیر د راشده خلافت په تمه دی، چې د ازادۍ لپاره به یې د پوځي ځواکونو په ورتګ سره د ماشومانو اوښکې پاکې کړي

په کشمیر کې هغه وخت لاریونونه پیل شول، چې د ۲۰۲۰م کال، د جولای په لومړۍ د هندو ځواکونو له لوري یو بوډا مسلمان په شهادت ورسېد او وروسته یې په سوپور ښار کې له موټر څخه وغورځاوه. د هغه درې کلن لمسی چې په سفر کې ورسره و، وروسته یې تصویر اخیستل شوی دی، چې هغه یې پر سینه ناست دی. دغه عمل په پاکستان کې د هغو مسلمانانو سخته غوصه راپارولې، چې د اسلامي امت په بدن کې د مستعمره کشمیر د ټپ له امله درد لري.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

زموږ د درد لامل د ډال (خلافت) نشت دی او بل هم هغه واکمنانو دی چې ګمراهي یې اختیار کړې ده. د ۲۰۱۹م کال، د اګېسټ له ۵مې د هندو هېواد بې شمېره مشرکینو په مستعمره کشمیر کې زموږ د مسلمانانو ورونو او خویندو پر وړاندې جګړه پیل کړې ده. دغه راز په زور سره یې هغه ترلي، په مرمیو یې ړانده کړي او وژلي دي. دا تر لمر هم روښانه ده چې اوسني واکمنان به هېڅکله زموږ د مقدساتو د ساتنې لپاره حرکت ونه کړي. دوی د دې کار پر ځای «نړیوالې ټولنې» ته عریضې وړاندې لېږي او ټویټونه کوي، نړیواله ټولنه د ډېرو د بُت حیثیت لري، چې نه زموږ په کومو لاملونو خبره ده او نه هم زموږ لپاره ګټه رسوي. برعکس، همدا ملګري ملتونه دي چې په کلکه د هغه دولت ملاتړ کوي، چې د عمل یا هم خبرو له لارې د مسلمانانو د مقدساتو سپکاوی کوي.

ښکاره خبره ده چې یوازې خلافت به زموږ د دوښمنانو لاسونه ونیسي، تر څو د اسلامي امت مقدساتو ته هېڅکله په سپکه سترګه ونه ګوري. زموږ د خپلو سرتېرو له لوري به ساتل کېږي چې د خپل ژوند په بدل کې د پراخه جنت لپاره سوداګري کوي؛ هغه جنت چې الله سبحانه وتعالی د نیکو خلکو لپاره چمتو کړی دی. د اسلام د مقدساتو پر وړاندې درېدل د اسلام پر وړاندې د جنګ اعلان دی، د دې لپاره چې سم لارښود یا امام باید خپل سرتیري، توغندي او وسلې ولېږدوي، تر څو دوښمنان هېڅکله د کوم مسلمان د زیان په اړه فکر ونه کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

« **إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ**»[مسلم]

***ژباړه:*** *په حقیقت کې امام «خلیفه» ستاسو ډال دی، تر شا یې جګړه کوئ او د هغه تر شا خوندي وئ.*

د مسلمانانو د لومړي او غوره امام په توګه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د قینقا یهودیانو ته له مدینې منورې څخه هغه وخت پوځي ځواک ورولېږه، تر څو دوی وشړي، کله یې چې د یوې مسلمانې مېرمنې عزت ته سپکاوی وکړ. د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو ته غاړه ایښودل، ورپسې د امامانو د واکمنۍ په ټوله دوره کې چې د الله سبحانه وتعالی احکام پکې پلي کېدل د امت لپاره د ډال په توګه کار کوي. په دې توګه، کله چې یوه مسلمانه مېرمن د رومیانو له لوري ځورول کېدله، خلیفه په خپله د عاملینو د مجازات کولو لپاره د پوځي ځواکونو مشري وکړه او عموریه یې ازاده کړه. د مودي د پلرونو پاچا، راجا دایر له لوري پر حجاج مسلمانانو ظلمونه د محمد بن قاسم د لښکرو له تورو سره مخ شول.

**اې د پاکستان په وسله والو ځواکونو کې مسلمانانو!**

د مستعمره کشمیر مسلمانان د هندو اشغالګرو ځواکونو پر وړاندې د مقاومت لپاره صبر کوي. دوی نړیوالې ټولنې ته سترګې په لار نه دي چې له دوی سره یې د لسیزو راهیسې خیانت کړی دی، دوی تاسو ته سترګې په لار دي. د خالد بن ولید، صلاح الدین او محمد بن قاسم رضی الله تعالی عنم اولاد ته انتظار باسي چې دوی ازاد کړي. د نبوت پر منهج د راشده خلافت تاسیس لپاره نصرت ورکړئ، چې پر تاسو امر وشي، تر څو له ځنډ پرته د سرینګر پر لور حرکت وکړئ او د مظلومانو اوښکې پاکې کړئ. حزب التحریر ته د شیخ عطا بن خلیل ابو رشته تر مشرۍ لاندې نصرت ورکړئ، چې د با ایمانه سړیو له لوري د بریا او شهادت په لاره کې رهبري شئ.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق، د ذي القعدې ۱۱مه**

**۲۰۲۰م ، د جولای ۴مه**

**د صدور ګڼه: ۷۵/ ۱۴۴۱**